مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی

۲۰۲۶/۰۴/۲۸

# غزل

د اپرېل پر اوه ویشتمه، د دوشنبې په ورځ، د طالبانو د ورور هیواد پاکستان پوځ د کنړ د ولایت د سید جمال الدین افغان پر پوهنتون باندي بمباري وکړه او، د وروستیو خبرونو له مخي یې، څلور تنه شهیدان کړي او څه باندي ۷۰ تنه یې زخمیان کړي دي. پر کنړ باندي حمله زموږ د ټول هیواد افغانستان پر ناموس باندي حمله ده. خو په ګران هیواد کي د پاکستان لاسپوڅی او غلام رژیم پر دې حملې باندي پټه خوله دی او خارجه وزیر ملامتقي خو لا بیا هم د خپلو بادارنو هیواد ته ورور او دوست هیواد ووایه او له ټولو افغانانو څخه یې وغوښتل چي د هغوی د بادار په مقابل کي له احساساتو څخه کار وانه خلي او د طالب غلامانو په څېر نور هم خاموش پاته سي. زه د افغانستان د یوه سپین ږیري خدمتګار په حیث یو ځل بیا خپله خبره تکراروم«که نه ویښېږی نو به ورکیږی»

نور مي څه پوښتې له حاله چي د چا لاس کي وطن دی

هر قدم په توکل دی د مولا لاس کي وطن دی

زر کلن مو زکندن دی ټول جهان راته دښمن دی

د غیبي مرستې په تمه د دعا لاس کي وطن دی

ازلی توره تروږمی ده له تیارو ږغونه اورو

غولوي مو راته وایی زما اوستا لاس کي وطن دی

لا مو یو ښخ کړی نه وي چي د بل جنازه راوړي

لکه کونډي ساندي وایو د ژړا لاس کي وطن دی

د پنځو زرو کلونو افسانو ته به زنګېږو

د غلام د غلامانو د پاچا لاس کي وطن دی

د زمري له خولې خلاصیږو د لېوه زامي ته لوېږو

له قاتل سره او سېږو د بلا لاس کي وطن دی

بې اختیاره بې پوښتني چا بازار ته یو راوړي

یو پر بل باندي خرڅېږو د سودا لاس کي وطن دی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

دومره پوه یم چي تیاره ده لاري ورکي دي له ټولو
د بي وزلو ړندو خلکو د پېشوا لاس کي وطن دی
نن جاهل پکښي حاکم دی اور په خونه د تعلیم دی
ابوجهل مو سالار دی د مُلا لاس کي وطن دی
جهاني په دې تیارو کي د پیړۍ لار ورکي خلک
یوه بل ته سره وایی د بینا لاس کي وطن دی.

د ۲۰۲۶ کال د اپرېل د میاشتي اوه ویشتمه، ویرجینیا.



په افغان جرمن آنلاین پورتال کی د جهانی صاحب آرشیف


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ